سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۳/۲۸

# د مینې بهار !

پسرلی دې مبارک وی ټول جهان ته

په جهان کی هر وګړی د افغان ته

هیله من یم چې دی ښکلې پسرلی کی

را پیدا کړمه تنی خیری ګریوان ته

غواړم ولرم ځلوینت زره لاسونه

چې را ټول کړمه ګلونه پری جانان ته

هومره جوړی د ګلونو بستری کړم

چې اغزی چیری و نه رسی انسان ته

وتوکیږی محبت په هر چمن کې

د نفرت دروازې بندی شی بوستان ته

شړل شوی په رنګ رنګ خپلوکوځونه

ورستانه شی بیرته لوی افغانستان ته



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

زورور نـه د کم زوری ویـره نه وی
باز او زرکي ګډی والـوزی آسمان ته

دا نـــړی لکه یـو کلـــی کلـیوالـه!
یو بدن شی یوه خوله شی یو ارمان ته

دا بهــار به شی د میني بهار هـلـه
چی ورغاړه هرجانان شی خپل جانان ته

۲۵/۰۳/۲۰۱۹

یادونه:
که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

د مینی بهار
kliwal_s_de_miney_bahaar.pdf